داوطلبۍ ته بلنه

داخلي پرانیستې داوطلبي

پروژه: د افغانستان بانک د کابل گمرک او د کابل نړیوال هوايي ډگر گمرک د نمایندگیو لپاره د احاطې دېوال جوړول

داوطلبۍ ته د بلنې شمېره: DAB/1405/NCB/W03

د افغانستان بانک په شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي ترڅو د افغانستان بانک د کابل گمرک او د کابل نړیوال هوايي ډگر گمرک د نمایندگیو لپاره د احاطې دېوال جوړولو پروژې د داوطلبۍ په پروسه کې گډون وکړي او د اړوندې شرطپاڼې چاپ شوی نقل د فلش ډیسک له لارې او یا د افغانستان بانک له وېب پاڼې (www.dab.gov.af) او د ملی تدارکاتو اداري له وېب پاڼې (https://tenders.ageops.af/) څخه ترلاسه کړئ، خپل آفرونه په شرطپاڼه کې د ذکر شویو شرایطو او د تدارکاتو له قانون او کړنلارې سره سم په سر بنده توگه د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه د سهار تر 10:30 بجو د 1405/05/07 نېټې پورې په درېیم پوړ کې د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته چې د کابل په ابن سینا واټ کې واقع دی، وړاندې کړئ. له ټاکلي وخت څخه وروسته او په آنلاین بڼه رارسېدلي آفرونه د منلو وړ نه دي.

د آفر پرانیستلو غونډه: د 1405/05/07 نېټې د چهارشنبې د سهار په 10:30 بجو د افغانستان بانک د تدارکاتو په لوی آمریت کې دایرېږي.

**نوټ: همدارنگه، د ملي تدارکاتو محترمې اداري د ۱۴۳۸۷ شمېرې متحدالمال او د ۱۴۴۷/۰۸/۱۷ هـ.ق نېټې د لارښوونې له مخې، د آفر تضمین په نغدي او بانکي بڼه لغوه شوی دی. له همدې امله، ټول داوطلبان مکلف دي چې د آفر د تضمین پر ځای، د آفر د تضمین د اظهار نامې فورمه د شرطپاڼې د نورو اړوندو فورمو ترڅنگ په بشپړه توگه ډکه، لاسلیک او مهر کړي او د خپل آفر سره یې وړاندې کړي.**